**لوړو زده کړو وزارت**

**تابش پوهنتون**

**علمي چارو معاونیت**

**د استادانو چارو امریت**

# د علمي کادر د غړو د استخدام، تعین او دوامدارۍ ارزونې تګلاره

**کال: ۱۴۰۴ هـ.ش**


بسم الله الرحمن الرحيم

## لومړۍ برخه: عمومیات

### لومړۍ ماده:  سریزه

تابش پوهنتون د لوړو زده کړو د یوه علمي، ملي او ټولنیز بنسټ په توګه د تدریس، څېړنې او علمي خدمتونو د کیفیت لوړولو ته ژمن دی. د دغې موخې د تحقق لپاره د وړ، متخصص، ژمن او اخلاقي علمي کادر شتون بنسټیز ارزښت لري. دا تګلاره د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانینو او لایحو پر بنسټ، د تابش پوهنتون د علمي اړتیاوو مطابق ترتیب شوې ده.

### دویمه ماده: موخې

د دې تګلارې اساسي موخې په لاندې ډول دي:

1. د شایسته، مسلکي او وړ علمي کادر د جذب تضمین
2. د استخدام او تعین په بهیر کې د شفافیت، عدالت او سیالۍ تأمین
3. د علمي کادر د فعالیتونو دوامداره ارزونه
4. د تدریس، څېړنې او علمي کیفیت لوړول
5. د پوهنتون علمي اعتبار پیاوړتیا

### دریمه ماده: مبنی

دا تګلاره د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د علمي کادر د جذب لایحې، د تابش پوهنتون د اساسنامې او نورو نافذه تقنیني اسنادو پر بنسټ ترتیب شوې ده.

### څلورمه ماده:  د تطبیق ساحه

د دې تګلارې احکام د تابش پوهنتون پر ټولو علمي کادر غړو (نوماند پوهنیار، پوهنیار، پوهنمل، پوهندوی، پوهنوال او پوهاند) د تطبیق وړ دي.

## دویمه برخه: د علمي کادر د غړو استخدام

### پنځمه ماده: د استخدام اړتیا

هر پوهنځی مکلف دی چې د محصلینو شمېر، تدریسي بار، علمي فعالیتونه او ستراتیژیک پلان ته په کتو د علمي کادر اړتیا مشخصه او د پوهنتون اړوند مراجعو ته یې وړاندیز کړي.

### شپږمه ماده: د بست اعلان

علمي بستونه د وزارت او پوهنتون د رسمي وېبپاڼې، ټولنیزو رسنیو او نورو مناسب عامه لارو اعلانېږي. په اعلان کې باید د بست عنوان، علمي رتبه، ماخذونه، تحصیلي شرایط، اړینه تجربه او د غوښتنلیک وروستۍ نېټه په واضح ډول ذکر شي.

### اومه ماده: د نوماندانو عمومي شرایط

نوماندان باید لاندې شرایط ولري:

1. د اړوند رشتې معتبر تحصیلي سند
2. علمي وړتیا او مسلکي اهلیت
3. ښه اخلاقي او مسلکي سابقه
4. د لوړو زده کړو وزارت د نافذه لایحو شرایط پوره کول

### اتمه ماده : د غوښتنلیکونو ارزونه

۱- غوښتنلیکونه د اړونده دیپارتمنت لوړ رتبه استادان، علمي چارو مرستیال او استادانو چارو امریت له خوا ارزول کېږي او واجد شرایط نوماندان د پوهنځي علمي شورا ته د نورو پړاوونو لپاره معرفي کېږي.

۲- نور ټوله پروسه د لوړو زده کړو وزارت د علمي کادر د جذب د لایحې مطابق د صلاحیت لرونکې پوهنتون او لوړو زده وزارت سره په همغږۍ ترسره کیږي.

## درېیمه برخه: د علمي کادر د غړو تعینات

### نهمه ماده: علمي ارزونه

د لوړو زده کړو وزارت د علمي کادر د جذب د لایحې مطابق د صلاحیت لرونکې پوهنتون او لوړو زده وزارت سره په همغږۍ ترسره کیږي، واجد شرایط نوماندان د تحریري ازموینې، علمي (کنفرانس) له لارې ارزول کېږي.

### لسمه ماده: د شورئ څخه تائیدي

د لوړو زده کړو وزارت د نوي پریکړې په اساس د علمي کادر د غړو د تقرر دوسیه یوازې د تقرر د صلاحیت لرونکې پوهنتون د پوهنځي علمي شورئ څخه تائیدي او نور لوړو زده کړو وزارت د تقرر او علمي ترفیعاتو ریاست ته بعدي اجرا اتو په موخه استول کیږي.

### یولسمه ماده: وروستئ منظوري

د بریالي نوماند د تقرر پرېکړه د تقرر او ترفیعاتو د کمیسون له تائیدۍ وروسته د لوړو زده کړو وزارت محترم مقام ته منظورۍ په موخه وړاندې کیږي او د مقام د احکامو وروسته نافذ ګڼل کېږي.

## څلورمه برخه: د علمي کادر د غړو دوامداره ارزونه

### دولسمه ماده: د ارزونې موخې

د دوامدارې ارزونې موخې په لاندې ډول دي:

1. د تدریس د کیفیت ښه کول
2. د علمي څېړنو او تولید هڅونه
3. د مسلکي ودې او حساب ورکونې پیاوړتیا

### دیارلسمه ماده: د ارزونې معیارونه

د علمي کادر ارزونه د لاندې معیارونو پر بنسټ ترسره کېږي:

1. د تدریس کیفیت او د محصلینو نظریات
2. علمي څېړنې، مقالې او علمي فعالیتونه

3. علمي نظم، اخلاقي چلند او اداري همکاري

**څوارلسمه ماده: د ارزونې ډولونه**

د علمي کادر ارزونه په لاندې ډولونو ترسره کېږي:

1. د محصلينو پرمټ د استاد څان ارزونه
2. د ديپارتمنت امر په مشرۍ د استاد علمي، تدريسي او څېړنيز فعاليتونو دوسيه
3. د پوهنځي د تضمين کيفيت کميټې له لورې د استاد ارزونه

**پنځلسمه ماده: د ارزونې پايلې**

د ارزونې پايلې د تشويقي، ترفيعي، اصلاحی او اداري پرېکړو لپاره کارول کېږي، چې د نافذه لايحو مطابق تطبيقېږي.

**شپاړلسمه ماده: تائيد او تصويب**

دا تګلاره د تابش پوهنتون (     ) / / ۱۴۰۴ نيټه غونډه کې تائيد او تصويب شوو او نافذ ګڼل کيږي او د پوهنتون ټولې اړوندې ادارې د هغې د تطبيق مکلفې دي.